# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد     بدين بوم و بر زنده يک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهيم     از آن به که کشور به دشمن دهيم

www.afgazad.com     afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

بسمل
۲۰ مارچ ۲۰۱۱

دنړۍ په مخ تولو وګړوپه تېره بيا زموږ مظلومو افغان خويندو ورونو ته دښکلي پسرلي او نوي ۱۳۹۰ لمريزکال مباره کي وايم خو له بده مرغه دادرۍ لسيزۍ کيږي چي موږدغم په تغر ناست ناست يو ځکه مي دعيني حالاتو پر بنا يو مخمس شعر دشپي وليکه هيله من يم چي په چا ونه غميږي

دشعر عنوان دی :




## دلته مه را ځه سپرليه

مالـــومېـــږي را روان يـــي پــــه ځــولـــۍ کـــي دي ګلونه
تـــه خبـــر نه يـــي که ښنـــګه شـــپه او ورځ ووري بمـونه
ســر په ســـر جنـازې درومي لوېشـــت په لوېشت دي لحدونه
هـــم مـــو مـــال هم مـو عزت لوټ هم مو سوځي تاريخونه
دلته مه را ځه سپرليه هره خوا بل دي اورونـه

ښه پوهيږوله ښه نيته را روان يي زموږ خواته
نـه تـــم کېـــږۍ نـــه ځنـډيږي را ځـي ښکلي پښتونخوا ته
اوس هغــــه وختـــونه نشـــته څوک دي ګوډ د چا ملا ما ته

هــردم ژونــد غنـــيمت بــولــو   تــمه نــه لــرو سبا ته
لا خبر نه يي چي دلته  قتل عام شول ولسونه
دلته مه را ځه سپرليه هره خوا بل دي اورونه
زمــوږ داســـي بــد نصيب دی مـــوږ هر وخت يو کړېدلي
نـــه پـــه چـاپـسي يـــو تـــلــلي نـــه په چا يو وردانګلي
يـــونـانيـــان كه انـګرېـــزان ودوی اشـــغال تـــه وو راغلي
دوی خـــو ځـــه چـــي روســـان هم  دلتـه په شرم  شرمېدلي
دا ځل داسي لېوان راغلل ور سره دي وحشتونه
دلتـــه مه را ځه سپرليه هره خوا بل دي اورونه
دزړه ســـره پســـرليـــه   په موږګران يـــي زموږ خوښېږي
داســـي نـــه چـــي زمـوږ مېلمه شي بيا له موږ سره کړېږي
مـــوږ په خپـل کـــور واکمن نه يو ته يي پوه که نه پوهيږي؟
تـــول بـــه تـــا تـــه يـــو خوابـدي ته به هم موږ ته ځورېږي
له نيمی لارې در ګرزه بيا به وکړې ارمانونه
دلته مه را ځه سپرليه هره خوا بل دي اورونه
مـــوږ پـــوهېــرو تنـــها نه راځـــي راوړې  رنګين ګلان ته
لـــه ګـــل بـــوټـــو او ګـــل ځانــګو سره يو ځای بلبلان ته
کورآباد کارغان دې خوښ نه دي را وړې شينکي طوطيان ته
ګل ســـرخ اونـــارنـــج ګل راوړې نښـــترو تـــه بـــازان  ته
نـن زمـــوږ نغمه خاموشه نه غږېږي ربابونه
دلته مه را ځه سپرليه هره خوا بل دي اورونه
نـــن زمـــوږ پـــه کـــور مـاتـــم سږي خواره راغلل اسيا ته
بهانـــه ديـــموکراسي کـــړي چل يي جوړ دی  لويـي غلا ته
افـــغانـــي ګلبـــڼ يـــي وســـو هم عراق اوس ځـــي ليبيا ته
دعــربــو کوردې وران شـــي لا دوست وايـــي امريـکا ته
داخوغه ځناور دي چي يي وران کړل خپل برجونه
دلتـــه مـــه را ځه ســـپرليه هره خوا بل دي اورونه
مـــوږ تـــه خـــدای راپيـــښه کړې چـــي   ســوځيږو لر اوبر
مـــوږ مغـــرور يـــو کبـــرجن يـــو موږ هر يو يو دخپل سر

نــوروخــپلو کــې لاس یـــو کـــړ   هغوی مشر کړ خپل خر
مــوږ لـــه هرچـــا ځـــان لـــوړ بـــولـــو خــو لا نه لرو رهبر
ځکه زه بسمل کړیږم ناسورشوي مې زخمونه
دلته مه را ځه سپرلیه هره خوا بل دي اورونه
مـــالومېــږي  را روان یـــې   پـــه ځـــولی کـــې دي ګلـــونـه
تـــه خبـــر نه یـــې که ځنـــګه شـــپه او ورځ ووري بمونه
ســـر په سر جنازې درومی لویشت په لویــشت دي لحـدونه
هــم مــو مـــال هم مو عـــزت لوت هم مو سوځي تاریخونه
دلتـــه مـــه را ځـــه سپـــرلیه هره خـــوا بـــل دي اورونـــه